د افغانستان اسلامي امارت

ستره محکمه

د دارالانشاء عمومي رياست

د تحريراتو آمريت

د متحدالمآلونو څانګه

☐ عاجل ☐ عادي ☐ اطمينانيه ☐ ابلاغيه ☐ ساير

د متحدالمآل ګڼه: ۵

نېټه: ۱۴۴۴/۱/۱۵ هق

د افغانستان اسلامي امارت د تميز ونو ، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د ستري محکمې عالي شورا مجلس مورخ ۱۴۴۳/۸/۵هق ته، د دارالانشاء عمومي رياست پيشنهاد وړاندي کړی وو چي متن د پيشنهاد داسي دی:

((اکثره محاکمو په پوښتنه کوله چي موضوع کوم وخت په جريان او کوم وخت په جريان کي نه ده د دي دپاره چي جريان او نه جريان واضح معلوم سي تفصيل يې په لاندي ډول دی:

((ځيني وختونه مدعي محکمې ته عارض سي محکمه د مدعی عليه د احضار دپاره جلب پاڼه وليږي او مدعی عليه چي کله محکمې ته حاضر سي نو مخکي تر دې چي د محکمې لخوا د مدعي صورت دعوه پر مدعی عليه عرض کړل سي مدعي عليه ووايي چي زه تبديل د محکمې غواړم.

يا د صورت دعوې تر عرضبدلو وروسته تر دفع مخکي ووايي چي زه تبديل غواړم.

يا مدعی عليه محکمې ته بيخي حاضر نسي او د تميز څخه د تبديل غوښتنه وکړي.

په دغه دري سره صورتونو کي مدعی عليه تبديل د محکمې غوښتلای سي او دغه جريان هغه جريان نه دی چي د تبديل حق ساقطوي.

او که مدعی عليه تر دفع راوړلو وروسته ووايي چي زه تبديل غواړم په دغه صورت کي موضوع په جريان کي بلل کيږي د تبديل غوښتلو حق نه لري.

خو که جانب مقابل يې سره د جريانه په تبديل راضي وو په دغه صورت کي هم مدعی عليه تبديل غوښتلای سي. طبق ماده ۵۷ د محاکمو لائحه.))

دا چي پورته ذکر شوی متن د اسلامي امارت د محاکمو عالي اداري لخوا د مکتوب نمبر(۵۱ج۵) مورخ ۱۴۴۲/۱/۴ هق په توسط د اسلامي امارت ټولو محکمو ته استول شوی دی بناءً د دوهم ځل استولو په موخه ستاسو درانه او محترم مقام ته پيشنهاد شو هغه څه چي ستاسو هدايت وي واجب التعميل دي.))

د پورته مکتوب په اړه عالي شورا د تصويب نمبر (۴۲) مورخ ۱۴۴۳/۸/۵هق په اساس داسي هدايت وکړ:

((دارالانشاء رياست دي مذکور مکتوب په متحدالمآل ډول ټولو محکمو ته واستوي.))

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
Post box: ۱۹۸۹
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحيه، کابل- افغانستان
تيلفون: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس: ۱۹۸۹

بناءً د ستري محکمې عالي شورا د پورته ذکر شوي تصویب هدایت، د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت تمیزونو دیوانونو مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شو تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

په درنښت

۱۵/۱۰/۱۴۴۴ هـ ق

مفتي عبدالرشید "سعید"

د ستري محکمې

د دارالانشاء رئیس

ستره محکمه
ریاست عمومی دارالانشاء

Address: Public health Square ۹th District, Kabul-Af
Phone: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
Post box: ۱۹۸۹
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحیه، کابل- افغانستان
تیلفون : ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس : ۱۹۸۹
secretariat@supremecourt.gov.af